امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



هفته نامه
# مدیریت حوادث

۵ الی ۹ اسد ۱۴۰۴

## شماره یکصدو شانزدهم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د انګلستان دولت د بشرې مرستو د دفتر له استازو سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د افغانستان د بشردوستانه ډلې له رئیس، ښاغلی آلاستر جېمز برنټ او د انګلستان هېواد د بشرې مرستو د اقتصادي او بشردوستانه چارو له کارپوه، ښاغلی موتومي مونينګيروا ګيچارا سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱ نېټه وکتل او خبرې یې وکړې.

په پیل کې، محترم ترابي صاحب مېلمنو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د اقلیمي بدلونونو په ځانګړې توګه په افغانستان کې د دغو بدلونونو منفي اغېزې یادې کړې. هغه وویل چې افغانستان د طبیعي پېښو په...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ په سیلبر سیمه کې د پاککارۍ د بهیر څخه څارنه وکړه




محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، د یو رسمي پلاوي په مشرۍ او د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس محترم نجیب‌الله انوري په ملتیا...

ادامه در صفحه۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ  ملي ادارې د پېښو د چارو د همغږۍ مرستیال د لغمان ولایت له والي سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو د چارو د همغږۍ مرستیال؛ محترم الحاج ملا عبدالولي سارنوال (حاجي وارث) د یو تخنیکي، مسلکي، فني، اداري او مالي پلاوي په مشرۍ چې متخصصین او انجینرانو پکې...

ادامه در صفحه۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مالي او اداري عمومي رئیس د اسلام قلعه په پوله کې له ایران څخه په اجباري توګه د را ایستل شویو کډوالو د لنډ مهاله استوګنې لپاره د دې ادارې لخوا د جوړ شوي پنډغالي څخه لیدنه وکړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مالي او اداري عمومي رئیس؛ محترم الحاج مولوي محمد علم عالمیار، هرات ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱ نېټه د هرات ولایت په اسلام قلعه پوله...

ادامه در صفحه ۴

@afghanistanndma | Afghanistanndma | andma.gov.af | 0202104926

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د انګلستان دولت د بشري مرستو د دفتر له استازو سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د افغانستان د بشردوستانه ډلې له رئیس، ښاغلی آلاسټر جېمز برنټ او د انګلستان هېواد د بشری مرستو د اقتصادی او بشردوستانه چارو له کارپوه، ښاغلی موتومی موینګیروا ګیچارا سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱ نېټه وکتل او خبرې یې وکړې.

په پیل کې، محترم ترابی صاحب مېلمنو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د اقلیمی بدلونونو په ځانګړې توګه په افغانستان کې د دغو بدلونونو منفی اغېزې یادې کړې. هغه وویل چې افغانستان د طبیعي پېښو په ځانګړې ډول د ناځاپي سېلابونو او پراخو وچکالیو له خطرونو سره مخ له خورا زیانمنو سیمو څخه ګڼل کېږي.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست ټینګار وکړ، چې د ملګرو ملتونو ادارو او نورو بشردوستانه بنسټونو لپاره باید د کار اسانتیاوې رامنځته شي، او د مرستو د وېش په پروسه کې باید بشپړ شفافیت او زیاته همغږی شتون ولری. هغه وړاندیز وکړ چې بشردوستانه مرستې دې د خلکو د حقیقی اړتیاوو پر بنسټ برابرې شي، او که امکان وی له کورنیو سرچینو، ملی بازارونو او یا د نږدې سیمو له بازارونو څخه وپېرل شي، څو د انتقال بهیر یې اسانه او کم لګښت ولری.

محترم ترابی صاحب  په ټول هېواد کې د کوچنیو بېړنیو وقایوی پروژو یادونه وکړه، خو ټینګار یې وکړ چې هېواد ته د لا زیاتو وقایوی پروژو اړتیا ده. هغه د استنادی دیوالونو، کوچنیو بندونو او نورو پراختیایی طرحو په پلې کولو کې د جدی ملاتړ غوښتنه هم وکړه.

همداراز، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د ګاونډیو هېوادونو څخه د کډوالو د پراخې راستنېدو موضوع ته هم اشاره وکړه او د دې زیانمن قشر د اړتیاوو د چټکې او اغېزناکې پاملرنې غوښتنه یې وکړه.

هغه په ټینګار وویل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې فعالیتونه غیرسیاسی دی او خدمات یې یوازې تر ټولو مستحقو او زیانمنو قشرونو ته رسېږی، نو څکه بشردوستانه مرستې باید د سیاسی تعاملاتو قربانی نه شی. هغه له نړیوالې ټولنې وغوښتل چې د طبیعی پېښو د مدیریت په برخه کې له دې ادارې سره ریښتینې او دوامداره همکاری وکړی.

په دوام کې، ښاغلی آلاسټر جېمز برنټ د یادې ادارې له همکاریو مننه وکړه او ویې ویل چې ډېر نړیوال همکار بنسټونه د دې ادارې له مثبت تعامل، چټک اقدام او اسانتیاوو څخه بشپړه خوښی لری. هغه ژمنه وکړه چې د دوی هېواد به یوازې په بشردوستانه برخه کې نه، بلکې د وقایوی او پراختیایی پروژو په تطبیق کې هم مرستې ته دوام ورکوی.

په پای کې، دواړو لورو ټینګار وکړ چې همکاری او همغږی باید لا پیاوړې شی، په ځانګړې توګه له ملګرو ملتونو سره دې دا همکارۍ او همغږی زیاتې شی. هغوی د ګډو ژمنو په ترڅ کې د وقایوی پروژو په پلې کولو، د لټون او ژغورنې ټیمونو په جوړولو، او د بیړنیو حالاتو لپاره د پرمختللو تجهیزاتو پر برابرولو ټینګار وکړ.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ په سیلبر سیمه کې د پاککارۍ د بهیر څخه څارنه وکړه




محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، د یو رسمی پلاوی په مشرۍ او د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس محترم نجیب‌الله انوری په ملتیا، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲ نېټه د پغمان ولسوالۍ د فرمان خیل کلی په سیلبر سیمه کې د پاککارۍ د بهیر له پرمختګ څخه لیدنه او څارنه وکړه.

د دې لیدنې موخه د پروژې د تطبیق وضعیت ارزونه، د تخنیکی او عملیاتی ننګونو تحلیل او د کار د پرمختګ مطابق میعاد او ټاکل شویو معیارونو سره سم یقینی کول وو. دا پروژه د سیلابونو له امله د زیانونو د کمولو په موخه ډیزاین شوې او که په بریالیتوب سره تطبیق شی، کولی شی په پغمان ولسوالۍ کې د زیانمنونکو سیمو د احتمالی زیانونو مخه په پراخه کچه ونیسی.

د دې لیدنې پر مهال، محترم ترابی صاحب د پروژې له مسؤلینو او انجنیرانو سره په خبرو اترو کې د پروژې پر لوړ کیفیت او پر وخت تطبیق ټینګار وکړ او ویې ویل چې وقایوی پروژې نه یوازې د خلکو ژوند او شتمنی د طبیعی پېښو پر وړاندې خوندی کوی، بلکې د ټولنې په کچه د ثبات او دوامداره هوساینې د تامین په لور یو مهم ګام دی.

هغه همدارنګه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره تل هڅه کوی چې د سرچینو له اغیزمنې کارونې سره هغه پروژې تطبیق کړی چې د خلکو په ژوند باندې دوامداره او د پام وړ اغیزې ولری.

د یادونې وړ ده چې دا پروژه د یادې شوې سیمې د سیلابونو د خطرونو د کمولو په موخه د ۱۷۴ مترو په اوږدوالی او د ۹ څخه تر ۱۲ مترو په عرض سره، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لخوا د نوی اخیستل شویو وسایطو او ماشینونو په وسیله تطبیق کیږی.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو د چارو د همغږۍ مرستیال د لغمان ولایت له والي سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو د چارو د همغږۍ مرستیال؛ محترم الحاج ملا عبدالولی سارنوال (حاجی وارث) د یو تخنیکی، مسلکی، فنی، اداری او مالی پلاوی په مشرۍ چې متخصصین او انجینران پکې شتون درلود، لغمان ولایت ته لاړ. او د دې ولایت له والي؛ محترم شیخ شیر احمد حقانی، او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ له رییس؛ محترم قاری خیر محمد غازی سره یې د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۵ نېټه وکتل او خبرې اترې یې وکړې.




په دې ناسته کې، ښاغلی مرستیال د څارنیزو سفرونو پر اهمیت ټینګار وکړ او ویې ویل چې زموږ د دې سفر موخه د اسلامی امارت د لوړ پوړی مشرتابه د احکامو، فرمانونو او مکتوبونو بیاکتنه او تعقیب او همدارنګه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د فعالیتونو، لاسته راوړنو، ننګونو او وړاندیزونو ارزونه ده ترڅو د پېښو د مدیریت په برخه کې فعالیتونه په منظم او غوره ډول ترسره شی.

هغه زیاته کړه چې د پېښو د مدیریت، د وقایوی پروژو د پلی کولو او نورو اړوندو فعالیتونو په برخه کې به د ولایت د مقام  د غوښتنو پر بنسټ اړینه پاملرنه او همکاری وشی.

ورپسي، د لغمان والي شيخ شير احمد حقانی وویل چې څارنه د حکومتدارۍ یو بنسټیز اصل دی او د چارو او فعالیتونو په ښه کولو کې مهم رول لوبوی. د مسلکی کسانو په مشرۍ د تخنیکی پلاوی شتون د کار په ښه کولو کې خورا اغیزمن کیدای شي.

هغه همدارنګه دا یادونه هم وکړه چې د پیښو د مدیریت په برخه کې د محترم ترابي صاحب له شتون راهیسې، اغیزمن اقدامات ترسره شوی او دا پروسه باید دوام ومومی.

د ناستې په پای کې، هر یو د پیښو د مناسب مدیریت، قربانیانو ته په وخت رسېدنه او د احتمالی خطرونو د کمولو لپاره د وقایوی پروژو د پلی کولو پر اهمیت باندې ټینګار وکړ.

همدارنګه، د پیښو د چارو د همغږۍ مرستیال د لغمان ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ریس او کارمندانو سره هم وکتل، د دوی ستونزې، وړاندیزونه او مشورې یې واورېدې او کارکوونکی یې وهڅول چې په وخت اغیزمن خدمات وړاندې کړی.

په پای کې، هغه د اداري له کارمندانو څخه وغوښتل چې له مراجعینو سره ښه چلند وکړی، په وخت او پرته له ځنډه خپلې دندې ترسره کړی، د بیت المال په کارولو کې له احتیاط څخه کار واخلی او اداری اصول مراعات کړی. محترم مرستیال ټینګار وکړ چې ټول کارمندان باید د خلکو ریښتینی خدمتګاران وی او د هیواد د پرمختګ لپاره خپله مسلکی پوهه وکاروی.

د یادونې وړ ده چې د تخنیکی پلاوی کار د یادو ټولو موضوعاتو د څیړلو لپاره پیل شوی دی.

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د مالي او اداری عمومی رئیس د اسلام قلعه په پوله کې له ایران څخه په اجباری توګه د را ایستل شویو کډوالو د لنډ مهاله استوګنې لپاره د دې اداري لخوا د جوړ شوی پنډغالي څخه لیدنه وکړه




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د مالی او اداری عمومی رئیس؛ محترم الحاج مولوی محمد علم عالمیار، هرات ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱ نېټه د هرات ولایت په اسلام قلعه پوله کې له ایران څخه په اجباری توګه د را ایستل شویو کډوالو د لنډ مهاله استوګنې لپاره د جوړ شوی پنډغالی څخه لیدنه وکړه.

محترم عالمیار صاحب د پنډغالی د لیدلو په ترڅ کې، له اړوند مسؤلینو څخه د پنډغالی د کار د پرمختګ د راپور د اوریدو ترڅنګ هغوی ته د پر وخت کار بشپړولو، د منظمو او اغیزمنو خدماتو د وړاندې کولو لپاره اړینې لارښوونې وکړې او همدارنګه یې هغوی له اجباري ایستل شویو کډوالو سره نیک او مهربانه چلند ته وهڅول.

هغه د خپلو خبرو په یوه برخه کې، له مرستندویه بنسټونو څخه مننه وکړه او د کډوالو خدمت کول یې لوی اجر یاد کړ او ویې ویل، چې له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري کارکوونکی ۲۴ ساعته خلکو ته د مرستو رسولو لپاره چمتو دی او د دې پنډغالی د جوړولو چارې په بشپړېدو دی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د UN-OCHA له رئیسی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاری دفتر کې د اوچا د رئیسی اغلې ازابیل سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲ نېټه وکتل.

ښاغلې ترابي صاحب د اوچا د دفتر راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چې خوښ یو چې یو د بل سره همکاری کوو او موږ تل هڅه کوو چې د بیلابیلو لارو زیانمنو کورنیو ته رسیدګی وکړو او پر وخت یې د مرستو څخه برخمن کړو.

همدا راز ترابي صاحب د اوچا د راغلی پلاوی څخه غوښتنه وکړه، چې ټول مؤسیسات دی خلکو ته اساسی کارونه وکړی تر څو خلک د مرستو څخه ښه استفاده وکړی.

د دې ترڅنګ، ښاغلې ترابي صاحب وویل چې بادغیس ولایت په درینور ولسوالۍ کی خلک وچکالۍ ځپلی دی او اوبو ته هیڅ لاسرسی نه لری او که د اوبو رسونه ژر ورته ونسی، ۲۷۵۰ کورنۍ به بې ځایه سوی، باید دغه ستونزه  پر وخت حل سی او موږ په دی اړه د بیلابیلو مؤسیساتو څخه غوښتنه کړې ده.

وروسته، د اوچا رئیسی اغلې ازابیل وویل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې په کارونو کې چټکتیا روښانه ده او موږ له تاسو څخه مننه کوو چې کارونه مو په چټکۍ روان کړی دی. هغې همدارنګه څرګنده کړه چې د تېرو کلونو په پرتله زموږ په بودیجه کی د پام وړ کموالی راغلی دی او موږ تل هڅه کوو، چې زیانمنو کورنیو ته پر وخت رسیدنه وکړو او زیانمنې کورنۍ د مرستو څخه برخمنی کړو. رته مهال، اغلې ازابیل څرګنده کړه چې دوی هرکال کلنۍ پلان جوړه وې او بیلابیلو برخو ته بودیجه پکښې معلومه وې او د بادغیس ولایت د وچکالۍ ځپلی سیمی ستونزه به د مؤسیساتو سره شریک کړې.

په ورسیتو کی د دواړو لورو لخوا ژمنه وسوه چې په ګډه به هغه ستونزی له منځه وړی چې خنډونه یې رامنځ کړی دی.

## آغاز کار ساخت پلچک در ولسوالی ده‌سبز ولایت کابل



به اساس هدایت سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، بتاریخ ۳ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل کار ساخت یک پلچک را در ولسوالی ده‌سبز این ولایت آغاز کرد. این پلچک به عرض ۴ متر، طول ۵ متر و ارتفاع ۱.۷۵ متر اعمار می‌گردد.

در مراسم افتتاح این پروژه، محترم الحاج مولوی نجیب‌الله انوری، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل اظهار داشت که رهبری امارت اسلامی متعهد است تا به مشکلات مردم به موقع رسیدگی کرده و تمامی سهولت‌های لازم را برای شهروندان فراهم سازد. وی علاوه نمود که امارت اسلامی در نظر دارد پروژه‌های مشابه را در مناطق آسیب‌پذیر مختلف ولایت کابل نیز تطبیق نماید.

ساکنان محل از آغاز کار ساخت این پل ابراز خرسندی کرده و از اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مسئولین محلی قدردانی نمودند. آنان افزودند که با تکمیل این پل مشکل رفت‌وآمد مردم به گونه اساسی مرفوع خواهد شد.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د توحید د ټولنیزو او پراختیایی چارو مؤسیسې تر منځ تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د توحید ټولنیزو او پراختیایی چارو مؤسیسې د رئیس داکتر نوید احمد سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۳ نېټه په خپل کاري دفتر کی وکتل.

ترابي صاحب له هرڅه مخکی د TSDO مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یی کړه چې مؤسیسات باید په خپلو کارو کی پوره شفافیت راولی ترڅو زیانمن شو کورنیو ته پر وخت مرستی ورسیږی.

همداراز ترابي صاحب وویل چې د میدان وردګ ولایت په بیلابیلو ولسوالیو او کلیو کی څو اونۍ وړاندی زیات سیلابونه او اورښتونه سوې دی چې خلګ پې زیانمن کړی دی او باید مرستی ورسره وسی.

دیادی مؤسیسې رئیس داکتر نوید احمد د یادی ادارې د سرپرست څخه ځانګړې مننه وکړه چې په کارونو کی چټکتیا راویستلی ده او ژر تر ژره یې زموږ سره تفاهم نامه لاسلیک کړه.

په پای کی یاده تفاهم نامه لاسلیک سوه چې له مخی به یې د میدان وردګ ولایت په ټولو ولسوالیو کی د طبیعی پېښو په صورت کی د WFP تر منظورۍ وروسته ۲۱۹ کورنیو ته خوراکی موادو ویشل کیږی چې هری کورنی ته به ۲۰۰ کیلو اوړه، ۱۸.۲ کیلو غوړی، ۲۵ کیلو دال، ۲ کیلو مالګه، ۳ کیلو LNS د سوی تغذی لپاره او ٦ کیلو WSB تغذیوی مواد د شیدو ورکونکو ښځو لپاره وی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی برای ۱۴۶۰ خانواده آسیب‌دیده مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضاء شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و کمیته ناروی برای افغانستان، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی با حمایت مالی این کمیته، برای ۱۴۶۰ خانواده آسیب‌دیده در ولسوالی‌های خدیر و سنگتخت آن ولایت پس از سروی بتاریخ ۴ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی مرحله دوم را توزیع نمود.

در این روند با حضور مسئولین، به هر خانواده مبلغ ۳،۰۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع مبلغ چهار میلیون و سه‌صد و هشتاد هزار(۴،۳۸۰،۰۰۰) افغانی برای این خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

شایان ذکر است که این کمک‌ها به‌منظور کاهش خسارات ناشی از حوادث طبیعی برای این خانواده‌ها توزیع گردیده و قرار است در آینده نیز کمک‌های دیگری به آنان توزیع گردد.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د واش کلسټر له مرستیال سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د واش کلسټر له مرستیال ښاغلی ایمانویل سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۴ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او خبرې یې وکړې.
ښاغلی ترابی صاحب، د یاد کلسټر پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، چې د نن غونډه مو په دې موخه جوړ کړې ده چې د بادغیس ولایت د نخچرستان په سیمه کې خلک وچکالۍ ځپلی دی او باید ژر تر ژره د اوبو رسوني سیستم ورته جوړ شي.
همدا راز ترابی صاحب وویل، چې ما خپله د نخچرستان د سیمې څخه لیدنه کړې ده، چې هلته ۴۱ کلی دی چې ۲۷۵۰ کورنۍ کیږی او د وچکالۍ له سخت بحران سره مخ دی چې اوس د څښاک اوبه هم نه لری، نوموړی وویل چې موږ یو سروې کړې ده چې د بالامرغاب د رود څخه د سولر په واسطه اوبه پورته کړی او هلته یو لوی حوض ورته جوړ کړی تر څو د هغه  حوض څخه اوبه یادو کلیو ته د پیپونو په ذریعه انتقال شی، چې اوس د باغیس ولایت د مقام د اوبو ټانکرونه هلته ورځی او د خلکو د اوبو اړتیا پوره کوی.
د واش کلسټر مرستیال ښاغلی ایمانویل د یادې ادارې د سرپرست څخه مننه وکړه او د واش کلسټر په اړه یې معلومات وړاندې کړل، چې واش کلسټر یو مستقل کلسټر دی چې د مؤسسو تر منځ همغږی رامنځ ته کوی او په ۸ زونونو کی یو یو نفر لری تر څو مؤسسه راجلب کړی.
همداراز ښاغلي ایمانویل وویل چې موږ به د نخچرستان ولسوالۍ د خلکو ستونزه له ډونرانو سره شریکه کړو تر څو ژر تر ژره یوه د حل لاره ورته پیدا کړو او موږ به د دغو وچکالۍ ځپلو خلکو لپاره یو مثبت خبر ولرو.

## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳,۰۴۴ مستحقو کورنیو ته (۸,۸۲۷,۶۰۰) افغانۍ نغدی مرستې وویشلې




د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هنګری دفتر په مالی همکاری، د یاد ولایت د بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۳,۰۴۴ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۴ نېټه نغدی مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته، د مسؤلینو په شتون کې ۲,۹۰۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال اته میلیونه اته سوه اووه ویشت زره او شپږ سوه (۸,۸۲۷,۶۰۰) افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.
د یادونې وړ ده، چې یاد شمېر کورنیو ته به په راتلونکې کې هم د دوو نورو پړاوونو نغدی مرستې وویشل شي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اړمنو خلکو نړیوالې مؤسسې تر منځ د (۴۷۸,۳۴۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د اړمنو خلکو نړیوالې مؤسسې له مرستیال محترم احسان الله نعیم سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۵ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په پیل کې، محترم ترابي صاحب د یادې مؤسسې راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ وویل، چې تاسو خپلې پروژې په پوره شفافیت او چټکتیا سره ترسره کړئ، ترڅو مستحقین ورڅخه پر وخت ګټه واخلی او موږ ستاسو لپاره په ولایتونو کې پوره آسانتیاوې برابرې کړې دی.

وروسته د اړمنو خلکو نړیوالې مؤسسې مرستیال محترم احسان الله نعیم له محترم ترابي صاحب څخه د لیدنې لپاره د زمینې برابرولو او پر وخت د تفاهم نامې د لاسلیک په پار مننه وکړه او زیاته یې کړه, چې دوی به خپله پروژه د دې ادارې له ولایتی مسؤلینو سره په پوره همغږۍ ترسره کوی.

د ناستې په پای کې د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د څلور سوه اته اویا زره او درې سوه دوه څلوېښت (۴۷۸,۳۴۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې د غزنی ولایت جاغوری او ګیلان ولسوالیو او د زابل ولایت ارغنداب او دای چوپان ولسوالیو په ۶۰ کلیو کې ۱۸۰۰ وګړو ته د طبیعی پېښو، د خطرونو د مخنیوی، د شخړو د حل او د تصمیم نیونې په موخه روزنیز پروګرامونه ترسره شی، د خطرونو د مخنیوی په موخه به ۱۵ کمېټې جوړېږی، چې د یادو کمېټو ته به د خطرونو د مخنیوی، د شخړو د حل او تصمیم نیونې، د پېښو لپاره د چمتووالي او د غبرګون پلان جوړونې، د خطر د خبرتیا د سیستمونو او میکانیزمونو، د اقلیم د بدلون او د ټولنې د مقاومت د جوړونې د روزنیزو پروګرامونو د دایرولو سربېره به هرې کمېټې ته د خطر د مدیریت یو کیټ ورکړل شی، چې جاکټونه، خولۍ، ماسکونه، څراغونه له اضافی بټریو سره، راډیو ګانې، پرۍ، بیلچې، کلیګونه، اوسپنیز میخونه، د اور وژنې وسایل، د ناروغانو د انتقال تخته، لاګ بوکونه، مارکرونه، قلمونه، کتابچې، کلیپ بورډونه، د ساحې نقشې، د وسایلو د ساتلو لپاره پلاستیکی بکسې او د بیرنۍ اړیکې لیستونه به پکې موجود وی، د پراختیایی پلانونو لپاره د دقیقو او واقعی معلوماتو د برابرولو لپاره له ۱۵ کمېټو سره په همغږۍ د درې بعدی نقشو جوړول او ارزول او د طبیعی پېښو د خطرونو د مخنیوی په موخه به له ۱۵ کمېټو سره د ۸،۹۹۲ ډالرو په ارزښت مالی مرسته کول تر سره شی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۱۴۰۶ خانواده آسیب‌دیده و نیازمند مساعدت نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضاءشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه اکشن‌اید، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی مؤسسه متذکره، برای ۱۴۰۶ خانواده آسیب دیده و نیازمند در مرکز آن ولایت، پس از سروی بتاریخ ۴ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی توزیع نمود.

در این روند با حضورمسئولین، به هر خانواده مبلغ ۲،۹۶۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع مبلغ چهار میلیون و یک صد و شصت و یک هزار و هفت‌صد و شصت(۴،۱۶۱،۷۶۰) افغانی برای این خانواده ها اختصاص یافته بود.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ځوانانو د خدماتي مؤسیسې تر منځ د (۴۸۴،۷۰۷) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د افغان ځوانانو د خدماتي مؤسیسې له اجرائیوی رئیس انجنیر عبدالحبیب تحریک سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۵ نېټه په خپل کاری دفتر کی وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په پیل کې، محترم ترابي صاحب د AYSO مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه چې مؤسیسات باید په خپلو کارو کی له پوره شفافیت او سرعت څخه کار واخلی ترڅو زیانمنو شو کورنیو ته پر وخت مرستی ورسېږي، همداریګه ترابي صاحب وویل، چې په ولایتونو کې زموږ کارکوونکی له مؤسساتو سره په سروې، توزیع او نورو برخو کې پوره همکارۍ کولو ته چمتو دی.

ورپسې د یادی مؤسیسې اجرائیه رئیس محترم انجنیر عبدالحبیب تحریک د خپلو مخکینیو او اوسنی پروژې په هکله معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه چې موږ به خپل کارونه په پوره شفافیت، سرعت او د ستاسو د ولایتی مسؤلینو سره په پوره همغږۍ سره ترسره کوو.

په پای کی د دواړو لوریو ترمنځ د څلور سوه او څلور اتیازره او اوه سوه او اوه (۴۸۴،۷۰۷) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې د بادغیس ولایت په جوند، قادس او قلعه نو ولسوالیو کې ۲،۴۳۰ مستحقو کورنیو ته د څلورو میاشتو لپاره د خوراکی توکو بستې ووېشل شی، جې په یادو بستو کې به ۵۰ کیلو اوړه، ۴ لیتره غوړی، ۴ کیلو دال او نیمه کیلو مالګه شتون لری.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې اوونیزه اداری غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۵ نېټه د دې ادارې په انګړ کې ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضوعاتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

andma.gov.af

@ ANDMA - له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست د ژغورنې نړیوالي کمېټې د بېړنیو حالتو د پروګرام له مسؤل سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست ښاغلي الحاج ملا نورالدین ترابي د ژغورنې نړیوالی کمیټې د بیړنیو حالتو د پروګرام له مسؤل شوکت الله عظیمی او د اړیکو له مسؤل عبدالله باوری سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۵ نېټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ښاغلي ترابي صاحب د ژغورنې نړیوالې کمېټې راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ زیاته کړه چې تاسو باید دخیمو او نورو تجهیزاتو کومک وکړی د یاد موسسی همکارانو دترابی صاحب سره ژمنه وکړه چی موږ به تاسو ته د اسلام قلعه د کیمپ لپاره ۱۲۰ باب داسی معیاری خیمی درکړو چی ټول سهولتونه به ولری او ترابی صاحبط د یادي کمېټې د ټول کاری ټیم څخه یې مننه وکړه او څرګنده یې کړه چې تاسو باید خپلې مرستی جاری وساتۍ ترڅو ولس مو د خدماتو څخه برخمن شي او و يې ویل چې مؤسیسې باید داسی اساسی کارونه وکړی چی خلګ د ډیر وخت لپاره استفاده ورڅخه وکړی.

د ژغورنې نړیوالی کمېټې د بیړنیو حالتو د پروګرام مسؤل، ښاغلي شوکت الله عظیمی له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملی اداري د سرپرست په کډون د ټولو کارکونکو څخه مننه وکړل چی یادی اداري په اسلام قلعه کی د اجباری راستنېدونکو کډوالو لپاره یو معیاری پنډ غالی جوړ کړی دی.

ښاغلی عظیمی زیاته کړل چي په نږدې راتلونکی ورځو کی به د دې اداري تر چتر لاندی ۱۲۰ بابه معیاری او ګران قیمته خیمې د هرات ولایت په اسلام قلعه سیمه کی نصب کړو.

---

## ګډ پلاوی د مزار شریف د ښار د استوګنې له بلاکونو څخه د اور لګېدنې د وقایوی تجهیزاتو د ارزونې په موخه سروې او څارنه تر سره کړه




د بلخ ولایت د مقام په حکم او له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست په لارښوونه، د بلخ ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د مزار شریف د ښاروالی، د اطفایې، مستوفیت، د کلیو او ښار جوړونې، استخباراتو ریاست، د سوداګری، صنعت او کانونو خونو، د تیلو او ګازو ریاست، او د بلخ صنعت او تجارت ریاست د محترمو ادارو څخه د جوړ شوی ګډ پلاوی په همکاری، د مزار شریف ښار کې د صفا، امینی، مولانا بلخ استوګنې کمپلیکس او په مزارشریف ښار کي د مختار بلاکونه د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۶ نېټه سروې او څارنه تر سره کړه.

دا ارزونه د اور لګېدنې د وقایوی تجهیزاتو د تدابیرو د ارزولو لپاره ترسره شوه.

د سروې پلاوی د بلاکونو مسؤلینو ته د موندل شویو نیمګړتیاوو د حل لپاره اړینې سپارښتنې وکړې او د دوه اړخیزې همغږۍ کې د نیمګړتیاوو د حل لپاره ځانګړی وخت وټاکل شو. د تأسیساتو مسؤلینو هم ژمنه وکړه، چې د راتلونکې سروې تر وخته پورې به موجوده ستونزې حل کړی.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۴ کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې




د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په ملاتړ، د یاد ولایت په بېلا بېلو ولسوالیو کې د وروستیو بارانونو له امله ۲۴ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱ نېټه غیرخوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې،۱ د پخلنځی کېټ، ۱ هایجن کېټ، د کمپلو ۱ کېټ، د سولر لایټ ۱ کېټ، او ۲ هغو کورنیو ته چې کورونه یې په زیات ویجاړ شوی وو، سربېره پر یادو توکو هرې کورنۍ ته یو باب خیمه او د حفظ الصحې یو کېټ هم ووېشل شول.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د RRDPO موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په تخنیکی همکارۍ او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مالی ملاتړ، د دې ولایت الینګار ولسوالۍ اړوند ۱۹ زیانمنو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسوولینو په شتون کې، هرې کورنۍته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړی، ۱۲.۵ کیلو دال او 1 کیلو مالګه ووېشل شوه.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی برای ورثه ۱۴ شهید ناشی از حوادث طبیعی کمک نقدی توزیع کرد

براساس هدایت سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی پس از انجام سروی، بتاریخ ۱ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق به ورثه ۱۴ تن از شهدا که در اثر حوادث طبیعی جان باخته بودند، کمک‌های نقدی توزیع کرد.
در این روند که با حضور مسئولین برگزار شد، به خانواده هر شهید مبلغ ۲۰،۰۰۰ افغانی توزیع گردید. در مجموع، برای این ۱۴ خانواده مبلغ ۲۸۰،۰۰۰ افغانی اختصاص یافته بود.
قابل یادآوری‌ست که در جریان روند توزیع کمک‌ها، معاون مقام ولایت با خانواده‌های شهدا ابراز همدردی کرد و از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث آن ولایت به خاطر تلاش‌ها و رسیدگی سریع به آسیب‌دیدگان قدردانی نمود.



## د ننگرهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰ سیلاب ځپلو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ماشومانو د ساتنې موسسې (Save The Children) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړهلیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالی همکارۍ، د بټی کوټ، ګوشتې او شینواری ولسوالیو اړوند ۱۰ کورنیو ته چې د وروستیو سیلابونو له امله زیانمنې شوې وې له سروې او ارزونې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱ نېټه غیر خوراکی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲۰ عدده پلاستیکی بوشکې، کلورین، ۱۰ کلچې د لاس منځلو صابون، یوه صابون دانۍ، ۷ کلچې د جامو منځلو صابون، ۳ دانې پلاستیکی تشتونه، کوټیکس، ۴ جوړې د ماشومانو جامې، ۷ عدده د غاښونو برس، ۲ عدده د غاښونو کریم وویشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان برای ۵۶ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غیرغذایی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان با حمایت سازمان بین‌المللی مهاجرت(IOM)، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۵۶ خانواده آسیب‌دیده در مربوطات ولسوالی‌های مختلف آن ولایت کمک‌های غیرغذایی توزیع کرد.

در این روند که با حضور مسئولین برگزار شد، به هر خانواده یک بسته وسایل بهداشتی، یک بسته لوازم خانوادگی، یک بسته کمپل و چراغ‌های سولری توزیع شد. همچنان به ۳۴ خانواده‌ای که خانه‌های‌شان به‌گونه کامل تخریب شده بود، برای هرکدام یک باب خیمه نیز توزیع گردید.

## د کنړ ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۱۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ARCI مؤسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په تخنیکی ملاتړاو د WFP سازمان په مالی همکارۍ، د دې ولایت په بلابیلو ولسوالیو کې۱۴ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱ نېټه خوراکی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړی، ۱۲.۵ کیلو دال او یوه کیلو مالګه وویشل شوه.

## د سېلابي رسوباتو څخه د رخه ولسوالۍ د پیاوشت کلي د ښوونځی د پاکولو چارې ترسره شوې




د پنجشیر ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د سیمې د اوسېدونکو په همکارۍ او د ولایت مقام په همغږۍ، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲ نېټه د رخه ولسوالۍ د پیاوشت کلی د هلکانو د ښوونځی انګړ او ټولګی له هغو رسوباتو او خټو پاک کړل چې د وروستیو سېلابونو له امله ډک شوی وو.

تېر سېلابونه د دې ښوونځی د زده کړو بهیر، د شاګردانو د تګ راتګ او د ښوونځی له انګړ څخه په عمومی کارونې کې جدی ستونزې رامنځته کړې وې. د دې فعالیت په ترسره کولو سره، د ښوونځی تعلیمی چاپېریال بېرته عادی حالت ته ستون شوی او د شاګردانو لپاره د بې له خنډه زده کړو زمینه برابره شوې ده.

دا اقدام د پنجشیر ولایت له پیښو سره د مبارزې د آمادګۍ ریاست، د سیمه‌ییزو خلکو او نورو دولتی ادارو د همکارۍ او یووالی ښکاره بېلګه ده چې د طبیعی پیښو د ګواښونو د کمولو او د ښوونې او روزنې د بهیر د ملاتړ په موخه ترسره شوی دی.

## کشف و خنثی‌سازی یک حلقه ماین ضد تانک در ولسوالی پغمان ولایت کابل




ریاست انسجام و هماهنگی تطهیر ماین، تیم پاسخ‌گوی عاجل مؤسسه ایریا، را بر اساس تماس دریافتی به شماره (۰۷۰۶۰۶۰۶۰)، جهت بررسی و عملیات پاک‌سازی بتاریخ ۱ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق به قریه دودهٔ مست ولسوالی پغمان اعزام گردید.

در نتیجه این عملیات، یک حلقه ماین ضد تانک که در جریان کار حفر سرک توسط دستگاه اکساواتور در قریه دودهٔ مست آشکار شده بود، با تلاش تیم پاسخ‌گویی عاجل بیرون کشیده شد و پس از انتقال به محل امن، با هماهنگی ارگان‌های دولتی کاملاً از بین برده شد.

همچنان در کنار عملیات خنثی‌سازی، برنامه آگاهی‌دهی عامه در مورد خطرات ماین‌ها و مواد منفجرناشده نیز برای ساکنان محل برگزار گردید تا از حوادث احتمالی در آینده جلوگیری شود.

## د لغمان ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې




د لغمان ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ولایت مقام د لارښوونې له مخې، د دې ولایت د علیشنګ ولسوالۍ په کوټاخېلو کلی کې د وروستیو سېلابونو له امله ۱۵ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو غنم او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۱۹۵ خانواده عودت‌کننده کمک‌های خوراکی توزیع نمود



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، برای ۱۹۵ خانواده که از کشورهای پاکستان و ایران دوباره به وطن عودت نموده بودند، بعد از سروی بتاریخ ۲ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های خوراکی توزیع کرد.
در این پروسه با حضور مسوولان، به هر خانواده ۲ بوری آرد ۵۰ کیلویی و ۲ بوری برنج ۲۵ کیلویی توزیع گردید.

# د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۶۲ زیانمنو، بې سرپرسته او د معلولینو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د کورد ایډ مؤسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت د ینګی قلعه ولسوالۍ په زرد کمر، مرکز شهر، جرباشی، عمر خیل او توغی قشلاق کلیو کې ۵۶۲ زیانمنو، بې سرپرسته، د معلولینو او معیوبینو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲ نېټه نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۲،۹۳۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره یو میلیون، شپږ سوه شپږ ځلوېښت زره او شپږ سوه او شپېته (۱،۶۴۶،۶۶۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

# د جوزجان - مزار شریف په لویه لاره ۱۳ بېلابېلو د تیلو ټانکونو ته توصیه لیک ورکړل شو



له اورلګېدنې څخه د مخنیوی دایمی تخنیکی کمیټې د کاری پلان او د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د لارښوونې له مخې، تعیین شوی پلاوی له وړاندې د جوزجان - مزار شریف په لویه لاره د تیلو ۱۵ ټانکونو ته له اور لګېدنې څخه د مخنیوی د معیاری کولو چک لیستونه سپارلی وو، چې د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۳ نېټه وکتل او راټول شول.
د دې ارزونې پر بنسټ، د تیلو له ۱۵ ټانکونو څخه یې ۱۳ د بېلابېلو معیارونو څخه سرغړوونکی وپېژندل شول او په رسمی ډول د کمیټې لخوا ورته توصیه لیک ورکړل شو ترڅو په راتلونکې کې د معیارونو سره سم عمل وکړی.

## د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ریاست ۹۵۱ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اکټیډ مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړه لیک له مخې، د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت د درایم ولسوالیو په بېلابېلو کلیو کې ۹۵۱ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۳ نېټه نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲،۹۸۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره دوه میلیونه، آته سوه درې دېرش زره او نه سوه او اتیا (۲،۸۳۳،۹۸۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱۶ اجباری راستنېدونکو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې



د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ریاست، له ایران او پاکستان څخه په اجباری توګه راستنېدونکو ۱۱۶ کورنیو ته، د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې کمېټې سره په همغږۍ تر سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۳ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو غنم او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان برای ۲۶ خانواده متضرر و نیازمند کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان، برای ۲۶ خانواده متضرر، نیازمند و مستحق در مربوطات ولسوالی‌های مختلف آن ولایت، بعد از سروی بتاریخ ۳ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد.
در این روند با حضور مسئولین، برای ۲۰ خانواده نیازمند به هر کدام یک بوری ۵۰ کیلویی آرد، دو بوری ۲۵ کیلویی برنج و ۱۰ کیلو مایع گاز توزیع گردید. همچنان برای ۵ خانواده مستحق به هر کدام یک بوری ۵۰ کیلویی آرد و دو بوری ۲۵ کیلویی برنج، و برای یک خانواده آسیب‌دیده دو بوری ۵۰ کیلویی آرد، دو بوری ۲۵ کیلویی برنج، دو تخته کمپل، یک عدد سطل آب و ۱۰ کیلو مایع گاز توزیع شد.

## د کندز ولایت په چهار درې ولسوالۍ کې مرمۍ کشف او خنثی کړل شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د ماین پاکۍ د همغږۍ او انسجام ریاست، د اومر موسسې د بېړنۍ ځواب وینې ټیم د 0708606060 شمېرې له لارې د ترلاسه شوی اړیکې پر بنسټ د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۳ نېټه د څېړنې او پاکولو د عملیاتو لپاره د کندز ولایت د چهار درې ولسوالۍ تال ګذر کلی ته واستوه.

د دې عملیاتو په پایله کې، یوه مرمۍ بېغیر له فشنګ څخه چې د لېږد وړ وه د ځایي اوسېدونکو لخوا لبدل شوې وه، چې د بیړنۍ ځوابویني ټیم په هڅو را وایستل شوه او خوندی ځای ته له لیږدولو وروسته له دولتی بنسټونو سره په همغږۍ له منځ یوړل شوه.

همدارنګه، د خنثی کولو د عملیاتو ترڅنګ د سیمې اوسېدونکو ته د ماینونو او ناچاودو توکو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوی پروګرام ترسره شول ترڅو په راتلونکی کې د احتمالی پېښو مخه ونیول شی.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۳ شهیدانو ورثه او د ۹ ټپیانو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست د لارښوونې له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د ورستیو طبیعي پېښو له امله د ۳ شهیدانو ورثه او د ۹ ټپیانو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۳ نېټه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د هر شهید ورثه ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲۰،۰۰۰ افغانۍ او د هر ټپي کورنۍ ته ۱۰،۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره څلور میلیونه، یو سل او پنځوس زره (۱۵۰،۰۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو د ترلاسه کولو او دوی ته د پر وخت رسېدنې په پار له یاد ریاست څخه مننه او قدردانی وکړ.

## د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۲ شهیدانو ورثه او د ۱ ټپي کورنۍ ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست د لارښوونې له مخې، د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت د عنابه، دره او آبشار ولسوالیو په عنابه، عبدالله خیل او خواجه غار جهرعلی کلیو کې د ورستیو طبیعي پېښو له امله د ۲ شهیدانو ورثه او د ۱ ټپي کورنۍ ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۳ نېټه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د هر شهید ورثه ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲۰،۰۰۰ افغانۍ او د ټپي کورنۍ ته ۱۰،۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره پنځوس زره (۵۰،۰۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۵ کارګرانو ته د کار په بدل کې خوراکي او غیر خوراکي توکي ووېشل




د میدان وردګو ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د سرپرست په لارښوونه د چک ولسوالۍ ۵۵ کارګرانو ته د کار کولو په بدل کې د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۴ نېټه خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

دغه کارګران د چک ولسوالۍ په بیکسمند سیمه کې د بندو سړکونو، بندونو، کاریزونو او ویالو د بیا پرانیستلو لپاره ګمارل شوی وو، چې د ۱۴ ورځو په اوږدو کې دغه لارې او تأسیسات ترمیم او د دوه یم ځل لپاره ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

د کار په بدل کې، هر کارګر ته دوه بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، څلور بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، یوه د یونیسف د اوبو بشکه، یوه پاڼه د کلورین د کارولو لارښود او د اوبو د فلټر کولو لپاره یو څه کلورین ورکړل شول.

د یادونې وړ ده چې د میدان وردګو ولایت په چک ولسوالۍ کې وروستیو سېلابونو د استوګنې کورونه په کلي او قسمي توګه ویجاړ کړي، سړکونه، بندونه، کاریزونه، ویالې او فصلونه یې زیانمن کړي دي. د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست زیانمنو کورنیو ته د خوراکي او غیر خوراکي توکو د مرستو د وېشلو سربېره، د عامه تأسیساتو د بیارغونې لپاره پراخ اقدامات ترسره کړي دي، چې د ځایي اوسېدونکو ستونزې یې حل کړې دي.

ځایي اوسېدونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسلامي امارت د مشرتابه د اقداماتو څخه رضایت ښرګند کړ او د هغوی ستاینه یې وکړه.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د خوړو د نړیوال پروګرام WFP په مالي ملاتړ، د وروستیو طبیعي پېښو له امله ۲۴ زیانمنو کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۴ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

د یادونې ده، چې دغه کورنۍ د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله په دره نور ولسوالۍ کې زیانمنې شوې وې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰۰ کیلو غنم، ۱۰ لیتره غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال او ۱ کیلو مالګه ووېشل شوه.

په ورستیو کې د مرستو تر لاسه کوونکو کورنیو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او مرستندویه بنسټونو څخه دوی ته د پاملرنې او د پر وخت همکاریو له امله مننه او قدرداني وکړه.

## د بلخ ولایت په دولت آباد ولسوالۍ کې څلور فیره د هاوان مرمۍ کشف او خنثی شوې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د ماین پاکۍ د همغږۍ او انسجام ریاست، د اومر موسسې د بېړنۍ ځواب وینې ټیم د 0708606060 شمېرې له لارې د ترلاسه شوی اړیکې پر بنسټ د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۴ نېټه د څېړنې او پاکولو د عملیاتو لپاره د بلخ ولایت د دولت آباد ولسوالۍ د سرخ ګنبد کلی ته واستوه.

د دې عملیاتو په پایله کې، څلور فېره د هاوان مرمۍ، د بېړنۍ ځوابوینې ټیم په هڅو پیدا او خوندی ځای ته له لېږدولو وروسته له دولتی بنسټونو سره په همغږۍ له منځ یوړل شوه.

همداراز، د خنثی کولو د عملیاتو ترڅنګ د سیمې اوسېدونکو ته د ماینونو او ناچاودو توکو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوی پروګرام ترسره شول ترڅو په راتلونکې کې د احتمالی پېښو مخه ونیول شی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۱۲۷ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر، به دنبال وقوع حوادث طبیعی اخیر در ولسوالی رخه آن ولایت، پس از انجام سروی، بتاریخ ۴ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۱۲۷ خانواده آسیب دیده کمک‌های غذایی توزیع کرد.

در این روند، به ۸۹ خانواده‌ای که به‌گونه جزئی متضرر شده‌اند، در حضور مسئولین، هر کدام یک بوری گندم و یک بوری برنج توزیع شد. همچنین برای ۳۸ خانواده‌ای که به شدت آسیب دیده‌اند، هر خانواده دو بوری گندم و یک بوری برنج توزیع گردید.

قابل ذکر است که زمین‌های زراعتی این خانواده‌ها در اثر بارندگی‌ها و سیلاب‌های اخیر دچار خسارات شده بودند.




## د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې




د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۹۵ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۴ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو غنم او ۵۰ کیلو وریجې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی برای ۴۰ خانواده آسیب‌دیده کمک غذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی برای ۴۰ خانواده نیازمند که به دلیل خشکسالی و آتش سوزی آسیب دیده بودند، پس از سروی، بتاریخ ۵ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق در مرکز آن ولایت کمک غذایی توزیع نمود.

در حضور مسئولین، به هر خانواده یک بوری ۵۰ کیلویی گندم و یک بوری ۲۵ کیلویی برنج توزیع شد.

## د فاریاب ولایت په خان چارباغ ولسوالۍ کې مرمۍ کشف او خنثی کړل شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د ماین پاکۍ د همغږۍ او انسجام ریاست او د اومر موسسې د عملیاتي ټیم په همکارۍ د 0708606060 بېړنۍ شمېرې له لارې د ترلاسه شوې اړیکې پر بنسټ د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۵ نېټه د دې ولایت د خان چارباغ ولسوالۍ په خان چارباغ کلي کې د لیږد وړ مرمۍ کشف او خنثی کړې.

همدارنګه، د خنثی کولو د عملیاتو ترڅنګ د سیمې اوسېدونکو ته د ماینونو او ناچاودو توکو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوي پروګرام ترسره شول ترڅو په راتلونکې کې د احتمالي پېښو مخه ونیول شي.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۸ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې وویشلې

د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په ملاتړ, د یاد ولایت په وزې ځدراڼ ولسوالۍ کې د وروستیو بارانونو او سیلابونو له امله ۱۸ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۵ نېټه خوراکي او غیر خوراکي مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې, د IOM لخوا هرې کورنۍ ته یو د پخلنځۍ کېټ، درې تختې کمپلې او یو سولرۍ څراغ او ۶ کورنیو هرې یوې ته د بېړنۍ سرپناه لپاره یو باب خیمه او د WFP لخوا هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۱۸.۲ لیټره غوړی، ۲۵ کیلو دال، ۲ کیلو مالګه، ۲ کیلو بیسکوټ او د ماشومانو او مېندو لپاره مغذی مواد وویشل شول.



## د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۸۲ زیانمنو شویو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې

د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د افغانستان لپاره د ناروې کمېټې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت په برمل ولسوالۍ کې ۲۸۲ زیانمنو کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۵ نېټه د کورونو د ترمیم او جوړولو په موخه نغدې مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ د مسؤلینو په شتون کې، ٦٨ کورنیو هرې یوې ته ۷۷،٦٨٠ افغانۍ د کورونو د جوړولو لپاره او ۲۱٤ کورنیو هرې یوې ته ٦٢،٨١٠ افغانۍ د کورونو د ترمیم په موخه ووېشل شوې چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره اته لس میلیونه، اوه سوه درویشت زره او پنځه سوه او اتیا (۱۸،۷۲۳،۵۸۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۰ کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت اړوند ۱۰۰ کورنیو ته، چې د طبیعي او غیرطبیعي پېښو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۵ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو اوړه، ۵۰ کیلو وریجې او ۵ لیټره غوړي ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت خوست برای ۶۰۸ خانواده نیازمند کمک‌های نقدی توزیع کرد



براساس تفاهم‌نامه‌ی امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و کمیته بین‌المللی نجات(IRC)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت خوست، با حمایت مالی این کمیته، برای ۶۰۸ خانواده نیازمند مربوط به ولسوالی ځاځی میدان آن ولایت، پس از انجام سروی، بتاریخ ۶ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق به‌منظور تهیه مواد غذایی کمک‌های نقدی توزیع کرد.
در این روند، با حضور مسئولین، در مرحله دوم برای هر خانواده مبلغ ۵,۶۰۰ افغانی توزیع شد، که در مجموع مبلغ سه میلیون، چهارصد و چهار هزار و هشتصد (۳,۴۰۴,۸۰۰) افغانی برای این تعداد خانواده اختصاص یافته بود.

# د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې او آمادګۍ ریاست ۱۳۷ کارګرانو ته د کار په بدل کې خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې




د میدان وردګو ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د سرپرست په لارښوونه د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۵ نېټه د نرخ ولسوالۍ ۱۳۷ کارګرانو ته د کار کولو په بدل کې خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

دغه کارګران په نرخ ولسوالۍ کې د بندو سړکونو، بندونو، کاریزونو او ویالو د بیا پرانیستلو لپاره ګمارل شوي وو، چې د ۱۴ ورځو په اوږدو کې دغه لارې او تأسیسات ترمیم او د دوه یم ځل لپاره ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

د کار په بدل کې، هر کارګر ته دوه بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، څلور بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، یوه د یونیسف د اوبو بشکه، یوه پاڼه د کلورین د کارولو لارښود او د اوبو د فلټر کولو لپاره کلورین ورکړل شول.

د یادونې وړ ده چې د میدان وردګو ولایت په نرخ ولسوالۍ کې وروستیو سېلابونو د استوګنې کورونه په کلي او قسمي توګه ویجاړ کړي، سړکونه، بندونه، کاریزونه، ویالې او فصلونه یې زیانمن کړي دي. د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست زیانمنو کورنیو ته د خوراکي او غیر خوراکي توکو د مرستو د وېشلو سربېره، د عامه تأسیساتو د بیارغونې لپاره پراخ اقدامات ترسره کړي دي، چې د ځایي اوسېدونکو ستونزې یې حل کړې دي.

ځایي اوسېدونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسلامي امارت د مشرتابه د اقداماتو څخه رضایت څرګند کړ او د هغوی ستاینه یې وکړه.

# د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۸۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې




د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ولایت مقام په لارښوونه، د دې ولایت په سروبي ولسوالۍ کې د وروستیو سېلابونو او بارانونو له امله ۱۸۵ زیانمنو شویو کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۶ نېټه خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۱ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، ۲ جوړې څپلۍ، ۲ تختې ځان پاکونه، ۱ عدد د اوبو سطل، ۱ عدد د اوبو بشکه، ۵ سیټه د ډوډۍ خوړلو یو ځل مصرفي لوښي او ۲۰ کلچې د لاس وینځلو صابون ووېشل شو.

د یادولو وړ ده، چې یاد توکي د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ګدامونو څخه د نقلیه وسایطو په واسطه ولېږدول شوې، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو یې په تر لاسه کولو سره خوښي څرګنده کړه او له مسؤلینو څخه یې د پر وخت رسېدنې په پار مننه وکړه.

## د باميان ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۸۱ کورنيو ته خوراکي، غير خوراکي او نغدي مرستې ووېشلې




د باميان ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د کډوالو چارو د آمريت په ملاتړ، د دې ولايت ته له ايران او پاکستان هېواد څخه په اجباری توګه راستنو شويو او اړمنو ۸۱ کورنيو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۶ نېټه خوراکي، غير خوراکي او نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلينو په شتون کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست لخوا ۳۰ کورنيو هري يوې ته ۲ تختې کمپلې، د کډوالو آمريت له لوری ۱ باب خېمه او ۵۱ نورو کورنيو هري يوې ته د آيت الله سيستانی له لوری ۷۳۵۰ افغانۍ نغدې پيسې او خوراکي توکي، چې اوړه، وريجو، غوړو، نسکو او مالګې پکې شتون لرلو ووېشل شول.

## د سرپل ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۸۶۷ زيانمنو او اړمنو کورنيو ته نغدي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اکشن ايډ مؤسسې ترمنځ د لاسليک شوی هوکړه ليک له مخې، د سرپل ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د يادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د دی ولايت د سوزمه قلعه ولسوالی اړوند ۸۶۷ زيانمنو او اړمنو کورنيو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۶ نېټه په دوه پړاوونو کې نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلينو په شتون کې، ٦٤٨ ګڼ زيانمنو شويو هري کورنۍ ته په لومړي پړاو کې ۱۰،۳۷۰ افغانۍ او په دوه يم پړاو کې ۲۱۹ ډېرو زيانمنو شويو کورنيو هري يوې ته ۱۲،۳۷۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال نه ميليونه، څلور سوه او اته ويشت زره او اوه سوه او نوی (۹،٤۲۸،۷۹۰) افغانۍ نغدي پيسې د ياد شمېر کورنيو لپاره ځانګړې شوې وې.

## په غزنی ولايت کې د هاوان يوه مرمۍ کشف او خنثی کړل شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د ماين پاکۍ د همغږۍ او انسجام رياست، د ايريا ماين پاکۍ موسسې د بېړنۍ ځواب وينې ټيم د 0708606060 شمېرې له لارې د ترلاسه شوی اړيکې پر بنسټ د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۷ نېټه د څېړنې او پاکولو د عملياتو لپاره د غزني ولايت د اندړ ولسوالی د ملانو کلی ته ولېږدوه.

د دې عملياتو په پايله کې، د هاوان يوه مرمۍ د بېړنۍ ځواب وينې ټيم له لوری را کشف شوه او خوندی ځای ته له لېږدولو وروسته له دولتی بنسټونو سره په همغږۍ له منځه يوړل شوه.

همدارنګه، د ماينونو او ناچاوده توکو د خطرونو د مخنيوی په موخه د سيمې اوسېدونکو ته د ماينونو او ناچاودو توکو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوی پروګرام ترسره شو ترڅو په راتلونکی کې د احتمالی ګواښونو په اړه خلک معلومات ولری.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۰ اجباري راستنېدونکو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، له ایران او پاکستان څخه په اجباري توګه راستنو شویو ۱۲۰ کورنیو ته، د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې کمېټې سره په همغږۍ تر سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۶ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم او ۱ بوري ۲۵ کیلویي وریجې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۲۷۹ خانواده نیازمند کمک‌های غذایی توزیع کرد



براساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه JCSSO، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با حمایت مالی این مؤسسه، پس از انجام سروی، بتاریخ ۶ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۲۷۹ خانواده نیازمند در ولسوالی گذرگاه نور آن ولایت کمک‌های غذایی توزیع کرد.

در این روند، با حضور مسئولان، برای هر خانواده ۱۰۰ کیلو آرد، ۸ لیتر روغن، ۸ کیلو دال و یک کیلو نمک توزیع شد.

**عامه پیغامونه :**

**9. وتړ په احتیاط چلوئ چې هدف ته زر ورسېږئ چټک تګ مه کوئ چې د کومې پېښې د رامنځته کېدو له امله دربانديږ ناوخته نشئ**

**10. ماینونو او ناچاوده توکو ته لاس مه وروړئ که چیرې مو کوم ماین یا ناچاوده توکي ولیدل د ماین پاکي مسؤلینو ته زر تر ژره خبر ورکړئ**

**11. طبیعي پېښو ته چمتووالي نیول د ژوند ژغورنې یو اړین اصل دی**